# د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان برخليک

ډاکټر سيد نصير احمد (نيدرلند )

درنو هېوادوالو او محترمو دوستانو !

تاسو ته معلومه ده، افغانستان د وروستيو څو لسيزو په بهير کې د ټولنيزو ستونزو ، سياسي کړکېچونو او د بې امنيتي له ګواښونو سره مخامخ شوی دی، چې په وروستيو څو لسيزو کې د ځبرځواکونو د سيالۍ ډګر هم ګرځېدلی دی. په وروستيو څو لسيزو کې پر افغانستان د بېلابېلو ځبرځواکونو يرغلونه تر سره شول، چې په وروستيو لسو کلونو کې پر افغان ولس د امريکا ځبرځواک يوه بله غير اخلاقي، نا انډوله او شؤونيستيکه جګړه تپل شوې ده، چې له بده مرغه دغې جګړې په افغانانو کې د سپېراتيزم (بېلنتوب) ، اداري فساد ، اخلاقي فساد او بې امنيتي امکانات رامنځ ته کړي دي. په افغاني ټولنه کې يې د بې اعتمادي، بې امنيتي او بې وزلي احساس په خلکو کې رامنځ ته کړی دی، چې نن سبا د ټولنې اکثريت په ټولنيز سايکولوژيک ستونزو اخته شوی دی.

د لس کلنې جګړې عاقبت دا شو ، چې د افغاني مقاومت په ترځ کې امريکا او د هغوی متحدين دې ته اړ شوي، چې له افغانستانه پښې سپکې کړي او په راتلونکو دوو کلونو کې د افغانستان امنيتي چارې افغانانو ته وسپاري، خو لويديزوالو له هېره ايستلې ده، چې اوسمهال افغانستان د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسيزه کې په قومي، سمتي، ژبني او مذهبي ښکېلاک کې نښتی دی، چې د لويديزوالو ځواکونو له وتلو سره به په يو ډېر غمجن عاقبت اخته شي. له بل پلوه په رسنيو کې داسې ګنګوسې هم راڅرګندې شوې دي، چې ګواکې افغاني سرتيريو او صاحب منصبانو ته د دې شرايط رامنځ ته




کېږي، چې په لوېديزو ملکونو کې پناه وغواړي، دغه ذهنيت هم په افغاني ځواکونو کې د تېښتې او بې مسؤليتې څپې خپرې کړې دي، چې عادي افغانان يې له وېرې سره مخامخ کړي دي.

موږ په هر حالت کې د افغانستان خپلواکۍ ته ارزښت ورکوو او د افغانستانه د لویدیزوالو ځواکونو د سوله ییز وتلو هر کلی کوو، خو مخکې له دې چې نړیوال ځواکونه له افغانستانه ووځي، د افغانستان د سوله ییز ژوند لپاره ځیني اړین میکانیزمونه باید رامنځ ته شي، چې د لویدیزوالو د ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې یوه ژمنه سوله ییزه اداره پاتې شي او د افغانستان داخلي امنیت په ټولو سیمو کې پیاوړی شي او د بهرنیو لاسوهنو او ګواښونو مخنیوی وشي، دغو موخو ته د رسېدلو لپاره ځیني ټولنیز معیارونه باید وڅېړل شي او په پام کې ونیول شي:

- د اداري سیستم کدري پالیسي
- امنیتي چارې
- کرنه (زراعت)
- اقتصاد
- ښوونه او روزنه
- روغتیاپالنه
- د بهرنیو ملکونو پالیسي
- د بېلنتوب ګواښونه او د هېواد د بشپړتیا پالیسي

تاسو ټولو ته څرګنده ده، چې د افغانستان ټول اداري سیستم (مقننه، قضائیه، اجرائیه) بشپړ په فساد کې ډوب دی، ګڼشمېر یې زورواکان دي، یو شمېر یې جنګي جنایتکاران دي او اکثریت یې غیر مسلکي کارواکان دي. له بده مرغه چې نه په نظامي برخه کې او نه هم په ملکي ادارو کې د خلکو کارونه پرته له بډو، سپکاوي او تنظیمي ارتباطاتو نه تر سره کېږي، د خلکو ځمکې په وچ زور نیول کېږي، یو شمېر خلک په غیر مشروع توګه له ملي شتمنیو نه ګټه پورته کوي او د بهرنیو مرستو نه سؤ استفاده کوي، چې نن سبا د افغانستان خلک د نننۍ واکمنۍ نه خوابدي دي، ځان په دولتي سیمو کې بې امنه احساسوي او د مقاومت په لیکو کې ورګډېږي، چې د افغانستان نننۍ جګړې ته یې یو تلپاتې کرکتر ورکړی او افغاني مقاومت نن سبا د ملي پاڅون رنګ نیولی دی.

د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې تر درېنیم میلیونه کارکوونکي ګومارل شوي دي، چې د جنرالانو شمېر یې له شپږو زرو اوښتی دی، ټول غیر مسلکي خلک د اداري په بېلابېلو برخو کې ګومارل شوي دي، خو تنخواوې یې بیا د بین المللي چارواکو نه هم اوچتې دي. نن سبا د افغانستان امنیتي چارې په درې ګونو څانګو (د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د امنیت ریاست) کې د کال ۱۲ میلیارده ډالره لګول کېږي، چې د دغه امنیتي سیستم د ساتلو او وظیفوي پوتنسیال لپاره د دغه لوی لګښت امکانات افغاني ټولنه نه لري او په دې اړه باید مشخص میکانیزمونه وسنجول شي، نه دا چې افغانان بیا په خړ ډاګ پرېښودل شي او د خپلمنځیو شخړو قرباني شي.

- د افغانستان عادي اداري چارواکي او امنيتي سرتېري تر ۱۰۰۰۰۰۰ (يو ميليون) تنو اوښتي دي، چې اوسمهال د مياشتې په تخميني توګه ۲۰۰ ډالره په مياشت کې ترلاسه کوي، چې د مياشتې ۲۰۰ ميليونه او د کال ۲۴۰۰ ميليونه ډالره کېږي، خو که په دغو لګښتونو کې د لوړ پوړو چارواکو، د تخنيکي توکيو او ترانسپورتي رچيو لګښتونه هم وشمېرل شي، نو خبره تر څو ميلياردو ډالرو رسېږي، چې افغاني ټولنه د دغو لګښتونو جوګه نه ده. د افغانستان نننی جمهور رئيس سږ کال يوازې د نظامي لګښتونو لپاره د کال تر ۵ ميلياردو ډالرو مرسته وغوښتله، خو ټولنه يوازې له عسکرو او نظاميانو نه ده جوړه، مګر د ټولنې اکثريت بايد په پام کې ونيول شي، چې نن هم د لوږې او بدمرغي له ګواښ سره مخامخ دي.

- له بده مرغه په افغانستان کې ايتنيکي فکتور د افغاني شخړو يو عامل ګڼل کېږي، خو تر ننه د افغانانو د اتحاد او د سيمې د سوله ييز ميکانيزمونو لپاره کار نه دی شوی. افغانان لا هم په ايتنيکي شخړو کې لاهو کوي، نو د دغه فکتور د سمې حل لارې لپاره بايد داسې ميکانيزمونه وسنجول شي، چې د افغانستان ملي ارزښتونو ته درنښت وشي او افغانستان په يوه موډرنه ټولنه، چې د اکثريت او اقليتونو حقوق پکې خوندي شي، واوړي.

- افغانستان تر ننه پورې د غير مسلکي خلکو لخوا په اداري انارشي کې ډوب دی. پوهې او څانګپوهنې ته ارزښت نه ورکول کېږي، نو دا اړينه بريښي، چې د افغانستان په اداري چارو کې څانګپوهنې ته پام وشي، د تحصيل او پوهې ارزښت بيرته په ټولنې کې خپور شي، که نه نو د افغانستان د جګړې لمبه به ټولې سيمې ته خپره شي، چې بيا به په ټوله سيمه کې د بنسټپالانو او زورواکانو غوبل پيل شي، چې نه تنها د سيمې بلکې د ټولې نړۍ لپاره به امنيتي ګواښونه رامنځ ته کړي.

کدري پاليسي په افغاني ټولنه کې يوه بله لويه ستونزه ده، چې نن سبا په لکهاو غير مسلکي خلک په اداري سيستم کې په کار ګومارل شوي، خو له ۲ ميليونو ډېر نور خلک لا د کارموندنې په هلو ځلو کې دي، چې د ټولنيزو ناخوالو يو اساسي فکتور ګڼل کېدلی شي. په اداري سيستم کې بايد يوه سمه کدري پاليسي پلې شي، چې کارونه څانګپوه او مسلکي خلکو ته وسپارل شي، ترڅو د افغانستان د اداري لپاره يو ښه کدري بنسټ رامنځ ته شي. د کارموندنې په برخه کې بايد د امنيت او اقتصادي سيستم داسې چاپېريال رامنځ ته شي، چې سوداګر په افغانستان کې پانګونه وکړي، خو تر ټولو مهمه دا ده، چې د وګړو باور د افغانستان په اداري سيستم رامنځ ته شي، چې د افغانستان خپلواکي او مسلکي اداره د دغه باور اساسي رکن ګڼل کېږي.

افغانستان باید خپل مسلکي کدرونه ولري، خو د دغه ټولو اهدافو لپاره امنیت، د کار زمینه او حقوقي چاپیریال ډېره غوره ګڼل کېږي. د کدري سیستم لپاره باید لاندې ښوونیز، روزنیز او د منجمنت میکانیزمونه پیاوړي شي، چې افغان ماشومان، ځوانان، پېغلې وکولی شي په لوست سمبال شي.




- ښوونځي او د ښوونځیو لپاره تعمیراتي سیستم
- د معلمینو روزل او د هغوی د سمې ودې لپاره مسلکي چاپیریال جوړول
- د عالي تحصیلاتو په برخه کې باید ځوانان د استعداد پر بنسټ وروزل شي، له بهرنیو بورسونو نه سمه ګټه پورته شي او درسي کوریکولوم له نړیوالو غوښتنو سره برابر شي.

په پورته یادو شویو تحصیلي او روزنیزو مؤسسو کې باید افغانان پرته له تبعیضه وکولی شي خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ بوزي او خپلې لوړې زده کړې تر لاسه کړي او وکولی شي د مسلکي زده کړو لپاره بهرنیو هېوادونو ته د لیاقت او روغ رقابت پر بنسټ ولېږل شي. په افغانستان کې باید د تحصیلي مرجعو لپاره د موډرنیزېشن ټولې غوښتنې لکه: کمپیوټرېزېشن، انټرنېټ، برېښنایي او غیر برېښنایي کتابونه، موډرن لابراتوارونه، تر سره شي. ښوونیز او تحصیلي تعمیراتي واحدونه باید جوړ شي، چې د تحصیلي سیستم جوړښت بشپړ په پښو ودرېږي.

| Source | Author | Publication | Ethnic Groups | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | Pashton | Tajik | Hazara | Uzbak | Baluch | Turkman | Aimaq | Pash |
| The ethnic composition of Afghanistan | A six year survey & research | WAK-1999 Norway | 62.73 | 12.4 | 9 | 6 | | 2.69 | 2.68 | |
| Afghanistan | Max Clumborg | 1960 | 60 | 30 | 3 | 3 | | | | |
| Fundamentalism Reborn? Afghanistan and the Taleban | William maley | London, 1998 | 62.73 | 12.4 | 9 | 6 | | 2.96 | 2.68 | |
| The world Geothonology | Academic Research, M. Mahjub F Yawery | 5th Ed, 19987 Iran | 60 | 20 | 5 | 5 | | | | |
| The world Population | Prof. C.I Brok | 1981, USSR | 52.8 | 18.6 | 8.6 | 8.6 | | 2 | 3 | |
| Afghanistan | Prof. M. Ali | 1955 Kabul | 60 | 20 | | | | | | |
| The National Language of Afghanistan | Prof. Aslancv | 1964 USSR | 60 | | | | | | | |
| Afghanistan Federation System? | M. Enam | 2000, Pakistan | 62 | 12 | 9 | 6 | | | | |
| Afghan Millat Journal | Issues 42-43 | 1995, Pakistan | 50 | 21 | 8 | 8 | | | | |
| History & Establishment of Afghanistan | Abdullah Ahmad Almir | 1995, London, Qattar | 58.7 | 28.7 | 2.7 | 8 | | 2 | | |
| Ibid | Adul Azim Walyan | 1987, Iran | 70 | 13 | | | | | | |
| Sukhan Journal | Ali Akbar Jafaryan | | 50 | 20 | | | | | | |
| The World Large Languages | Mackenzie | 1987, Europe | 55-65 | | | | | | | |

په افغاني ټولنه کې قومي جوړښت هم یو سیاسي اړخ لري، چې د ببلابېلو استخباراتي موسسو لخوا د خپلو شومو اهدافو لپاره کارول کېږي، چې هر څېرځواک په خپل وار سره دغه فکتور د افغانستان په کورنیو شخړو کې کارولی دی او زموږ خلک یې په وینو کې لمبولي دي. د نړۍ په ګڼشمېر خپرونو، کتابونو او څېړنیزو موسسو کې د پښتنو شمېر له **۵۵** ٪ تر ۷۰ ٪ ښودلی دی، خو په ځینو اساسو شرایطو کې د پښتنو سلنه په ټولنه کې ټیټه ښودل کېږي، چې دغه دریځ له پښتنو سره ټولنیزه جفا ښیي او د نورو ټبرونو لمسوني ته شرایط چمتو کوي، چې په وروستیو څو لسیزو کې یې موږ او تاسو شاهدان هم یو. موږ افغانان باید علمي څېړنو ته په درنه سترګو وګورو او خپل ځان د احساساتو په منګولو کې لاهو نه کړو او د هرې ټولنیزې پدیدې لپاره یوه علمي پرېکړه تعقیب کړو.

له خواشینۍ سره باید یاده کړو ، چې د څو لسیزو جګړو په ترځ کې د افغانستان اقتصادي سیستم بشپړ له منځه تللی دی، نو د افغانستان د ټولنیز اقتصاد لپاره باید هر اړخیز کار وشي، چې په دې برخه کې د کدرونو روزل او له پرمختللو پوهنتونو سره مشورې او د هغوی سپارښتونه به د افغانستان د اقتصاد لپاره حیاتي رول ولوبوي، نو بیا یادوم، چې وروسته د نظامي ځواکونو له ایستلو لا ډیر څه په افغانستان کې شته، چې اصلاح شي او یا سم ووایم بیخي له سره جوړ شي.




د افغانستان په اقتصاد کې د لویو لارو جوړول، د سړکونو پخول او د هېواد امنیت یو غوره فکتور ګڼل کېدلی شي، نو سر له اوسه باید بهرني هېوادونه هڅه وکړي، چې خپل نظامي عملیات بس کړي او ټولنیزو او ملکي پروژو ته مخه کړي، چې هم افغانان د جګړې له ذهنیته لیري شي او هم به د افغانانو او بهرنیو ملکونو تر منځ د باور زمینه رامنځ ته شي، چې په دې برخه کې د ځانګړوه افغانانو مشورو ته باید غوږ ونیول شي او د هغوي د کاري پوتنسیاله باید د افغانستان د ودې لپاره سمه استفاده وشي.

افغانستان یو زراعتي هېواد دی. د افغانستان ۷۵٪ خلک په بزګري، مالداري او یو شمېر په لاسي صنعت، چې بنسټ یې بیا هم زراعت دی، بوخت دي، نو د زراعت لپاره باید د مېکانیزه سیستم شرایط رامنځ ته شي. نن سبا زموږ بزګران لا ځمکه په یوم او بېل اړوي، یووي او غوبل په غواګانو ، خرونو او آسونو کوي. د ښه زراعت لپاره د تراکتورونو او کامباینونو د راوړلو او کارولو پروژې باید پیاوړې شي.

په افغانستان کې د اوبو ډیر سیندونه شته، خو له دغو روانو اوبو نه د افغانستان د زراعت او برېښنايي سیستم د پیاوړتیا لپاره پوره کار نه دی اخیستل شوی. له بل پلوه افغانستان هغه ملک دی، چې ډیر وخت روښانه لمر لري، چې موږ کولی شو د افغانستان د دغو طبیعي امکاناتو څخه د برېښنا د تولید لپاره سمه استفاده وکړو ، چې په دې برخه کې د پر مختللو هېوادونو مرستو ، سپارښتونو او لارښوونو ته اړتیا لیدل کېږي، نو د افغانستان په طبیعي برخه کې ډیر څه شته، چې ورته پام وشي او په افغانستان کې سوله ییز ژوند پیاوړی کړي.

افغانستان د وروستیو څو لسیزو په بهیر کې د دې امکانات نه درلودل، چې د خپلو طبیعي زېرمو څخه سمه او هر اړخیزه ګټه واخلي، نو افغانستان نن هم د دې امکانات نه لري، چې خپل کانونه په مسلکي توګه راوباسي او د خپل ټولنیز ژوند او د هېواد د زېربنا لپاره ترې ګټه پورته کړي، نو بیا هم په دې برخه کې افغانستان بهرنیو ملکونو ته یوه اړه ټولنه ګڼل کېږي. له بل پلوه افغانستان د منځنۍ آسیا او د هند د تودو اوبو ترمنځ یو ښه ترانزیتي موقعیت لري، نو افغانستان دې ته اړ دی، چې بهرني پرمختللي ملکونه له افغانانو سره په دې برخه کې مرسته وکړي، چې

دغه ترانزیتي لاره د افغانستان، سیمې او نړیوال سوداګرې لپاره حیاتي لاره وګرځي، نو د افغانستان دغه جیوپولیتیک موقعیت کېدلی شي، د سیمې د سم انډول او د افغانانو د سوکالي لپاره وکاورل شي.

د افغانستان په اړه د بهرنیو ملکونو پالیسي لا هم سمه نه ده. افغانستان د نړیوالو ځبرځواکونو د سیالۍ او د ګاونډیانو د لاسوهنو ډګر ګرځېدلی دی، خو په دغه سیالۍ او لاسوهنو کې افغان ولس برباد شو، تباه شو او په غربت کې لاهو شو، چې په وروستیو څو لسیزو کې یې تر ۲ میلیونو خلک ووژل شول، ډېر یې معیوب شول، ګڼشمېر مېرمنې یې کونډې شوې، میندې یې بورې شوې، ماشومان مو یتیمان شول او تر ۷ میلیونو خلک مو مهاجرتونو ته اړشول. افغانستان د نړیوال مخدره موادو د قاچاق مرکز وګرځېد، چې نن سبا افغانستان تر یو میلیونه زیاد روږدي وګړي لري او ټوله نړۍ یې د هیروینو له مخاطرې سره مخامخ کړې ده.

۱- د افغانستان په پېښو کې ځبرځواکونه هم خپل اړخ لري، ځکه په افغانستان کې په وروستیو څو لسیزو کې بېلابېلو ځبرځواکونو تیري تر سره کړي، چې نن سبا هم افغانستان د ځبرځواکونو د سیمه ییزو سیالو ډګر دی، چې لاندې یاد شویو ملکونو او ځبرځواکونو خپل اغېز د افغانستان په ناخوالو کې پرې ایښی دی.

- امریکا
- اروپا
- روسیه
- چین
- هند
- اسلامي نړۍ

نن سبا ناټو په نړۍ کې یکه تازي کوي، خو په نننۍ نړیوالو شرایطو کې د تخنیک تر څنګ د سیمې ډیموګرافي خپل اړخ لري. له ۲۰۰۱ میلادي کاله په آسیا کې د شانګهای تړون رامنځ ته شوی، چې د ناټو په مقابل کې نوی قطب ګڼل کېدلی شي. د هندو-چین فکتور باید په پام کې ونیول شي، ځکه د نړۍ دریمه برخه نفوس چې ۲،۵ میلیارده کېږي، په همدغو دوو ملکونو کې ژوند کوي. له بل پلوه د روسیې رول ته د شانګهای په تړون کې باید سم ځیر شو، خو اسلامي نړۍ هم باید له پامه و نه غورځول شي، ځکه د نړۍ لږ تر لږه ۲ میلیارده خلک یا مسلمان دي او یا هم له اسلام سره خواخوږي لري، نو د نړۍ د امنیت لپاره باید دغه فکتورونه ټول په پام کې ونیول شي، ځکه نو سیمه او نړۍ باید د جګړې له ګواښه وژغورل شي. له بده مرغه نن سبا په نړۍ کې په لسهاو ملکونه په اټومي وسلو سمبال شوي دي، چې د افغانستان چاپېریال ملکونه هم په دغه بشر وژونکې سلاح سمبال دي، نو بیا هم یادوم، چې د افغانستان امنیت، اداره او ټولنیزه وده، د ټولې سیمې د سوله ییز ژوند زمینه او د نړیوالو اټومي ګواښونو د مخنیوي تضمین رامنځ ته کوي.

۲-د افغانستان په پېښو کې ګاونډیانو هم خپلې لاسوهنې نه دي سپما کړې او تر خپله حده یې خپلې لاسوهنې تر سره کړې دي، چې نن سبا د کلتوري، استخباراتي او نظامي سیالیو مرکز هم د لاندې نومول شویو ملکونو لپاره افغانستان ګرځېدلی دی.

- پاکستان
- ایران
- اوزبکستان
- تاجکستان
- تورکمنستان

ځکه نو پورته یاد شوي ملکونه باید د افغانستان په اړه یو مثبت سیاست خپل کړي، چې د افغانانو، ګاونډیانو او نړیوالو لپاره لپاره د منلو وړ وي، د سولې پیغام د ټولې سیمې او ټولې نړۍ لپاره ولري، چې هم افغانان، هم سیمه او هم نړۍ د ورورولۍ الهام ترې واخلي. نن سبا په افغانستان کې یو شمېر زورواکان د یو او بل بهرني ملک لخوا یې ملا تړکېږي او لویه سرمایه ګذاري پر دغو زورواکانو کېږي، چې نن سبا یې په افغانانو کې د بې باورۍ، بې تفاوتۍ او جګړې ذهنیت رامنځ ته کړی دی. ښه به دا وي، چې د دغو خلکو د پولي، سیاسي او ټولنیز ملاتړه لاس واخیستل شي، چې په افغاني ټولنه کې د ټولنیزو سمبولونو د رشد سمه زمینه رامنځ ته شي، چې د جګړې ذهنیت په سوله ییز ذهنیت واوړي.

د وروستیو څو لسیزو په بهیر کې په افغانستان کې د بنسټپالۍ تخم کرل شوی دی. له خواشینۍ سره باید یاده شي، چې نن افغانستان نه یوازې د بنسټپالۍ ځاله ګرځېدلې ده. له بده مرغه د بنسټپالي تر څنګ قومي، ژبني او سمتي افراط هم خپل اوج ته رسېدلی دی. د افغان ولس د ناپوهي او بې تحصیلي نه په ناوړه توګه ګټه پورته کېږي او د سوله ییز ولس ژوند یې له ګواښونو سره مخامخ کړی دی، نو د دین، مذهب او ټولنیزې فلسفې په اړه باید سمه زمینه رامنځ ته شي، چې خلک وکولی شي د سوله ییز ژوند لپاره خپل ذهنیت په انساني ارزښتونو وپوهوي، چې د دې لپاره بیا هم امنیت، روزنیز مرکزونه، ټولنیز انډول او طبیعي خبره د کارکولو امکانات اړین بریښي.

افغانستان یو وروسته پاتې هېواد دی، اقتصادي امکانات یې له نشت سره برابر دي، خو له بده مرغه په میلیونونو ډالر په داسې رسنیو لګول کېږي، چې د افغانانو لپاره نه د سولې پیغام لري او نه هم روزنیز الهام. په افغانستان کې یواځې په کابل کې تر ۵۰ ډېر تلویزیوني چینلونه شته، چې په هېڅ بل مملکت کې یې ساری نه لیدل کېږي. نن سبا جرمني د نړیوال اقتصاد یوه لویه ټولنه ګڼل کېږي، نو څو تلویزیوني چینلونه لري! زه فکر کوم، چې شمېر به یې له افغانستانه ډېر کم وي، خو زما په ګومان د افغانستان لپاره د دومره ډېرو خپرونو درلودل یو رسنیز انارشیزم ګڼل کېدلی شي. په چاپي خپرونو کې د افغانستان رسنۍ یواځې په کابل کې تر ۱۰۰۰ اوښتې دي، چې په ټولو کې

تکراري مواد خپرېږي، په ليکنو او راپورونو کې د اشخاصو، ټولنيزو او سياسي ډلو عفت او حيثيت په پام کې نه نيول کېږي او افغان ولس يې په قوم پرستي، مذهب پرستي او سمت پرستي کې لاهو کړی دی. دا پخپله د افغانستان په امنيت کې يو لوی ګواښ ګڼل کېدلی شي، نو د رسنيو ځانګپوهنې ته هم بايد اړين پام وشي او داسې رسنۍ په افغاني ټولنه کې فعاله شي، چې د ټولنې د يووالي، سولې، امنيت او پرمختګ لپاره د افغانانو ذهنيت چمتو کړي.

له بده مرغه په وروستيو څو لسيزو کې د افغانستان روغتيايي سيستم ته ډېر زيانونه اوښتي دي. نن سبا افغاني ټولنه يو سم او هر اړخيز روغتيايي سيتم ته اړتيا لري. تاسو ته معلومه ده، چې د هر انسان روحي، رواني، جسمي او ټولنيزه روغتيا د يوې هوسا، سوکاله او با امنه ټولنې ژمنتيا ګڼل کېږي، نو د روغتيا په برخه کې بايد داسې ګامونه پورته شي، چې خلکو ته پر وخت ځانګپوهه روغتيايي مرسته ورسېږي، معلوماتي مرکزونه جوړ شي او ماشومانو ته پر وخت واکسينيزېشن تر سره شي. د روغتيايي زده کړو لپاره بايد يو پرمختللی درسي نصاب جوړ شي، چې افغاني روغتيايي چارواکي وکولی شي، خپلو خلکو ته سمه روغتيايي مرسته وکړي. په افغانستان کې بايد د روغتيايي مرستې په ټولو برخو کې تعميراتي سيستمونه جوړ شي او په نړيوال ستندرد روغتيايي مرکزونه رامنځ ته شي.




د افغانستان په راتلونکي اداري سيستم کې بايد ښکېلې ډلې په پام کې ونيول شي. د وسلوالو ډلو بې وسلې کول، د امنيت او سوله ييز ژوند تضمين دی. بايد داسې چاپېريال رامنځ ته شي، چې په نوې اداره کې صادق، کارپوه او انرژيک خلک وګومارل شي. د دې امکانات بايد رامنځ ته شي، چې د هغه شمېر جنګي جنايتکارانو او زورواکانو جنايتونه په نړيواله يا افغاني ملي محکمه کې تر څېړنې لاندې ونيول شي او له جرم سره سم سزا ورکړل شي. پرته له دې په افغانانو کې د باور، مسؤليت او ګډ کار زمينه نه شي رامنځ ته کېدلی.

په پای کې خپلې خبرې راغونډوم. زما په ګومان سر له اوسه بايد د افغانستان د زېربنا، سوله ييزو مؤسسو او ټولنيز اقتصادي سيستم بيا رغاونه باندې لاس پورې شي، چې ورو ورو د سولې چاپېريال په افغانستان کې پياوړی شي. د افغانستان د ننۍ اداري پر ځای بايد يوه مسلکي اداره رامنځ ته شي. د راتلونکو ټاکنو لپاره بايد د نويو سمبولونو د رامنځ ته کېدلو شرايط، د هغوی ملاتړ او په راتلونکو انتخاباتو کې د هغوی ګډون بايد تضمين شي.

د راتلونکو انتخاباتو په مرسته باید داسې یوه اداره رامنځ ته شي، چې د افغانستان لپاره یوه ځانګړې اداره وي، د ګاونډیانو لپاره د ښو اړیکو ژمنه اداره وي او د نړیوالو لپاره د سوله ییز ژوند تضمینوکې اداره وي، چې په افغانستان، سیمه او نړۍ کې د سولې، برابري او ورورولي چاپېریال رامنځ ته کړي. د جي اېف کېنیډي خبره باید په یاد ولرو، چې وایي: بدلون د ژوندون قانون دی. هغه څوک چې یوازې تېر مهال او اوسمهال ته پام کوي، نو راتلونکی یې له هېره وتلی وي، نو ښه به دا وي، چې لا اوس د راتلونکي افغانستان په اړه سم ګامونه پورته کړو.

په درنښت